لیکوال : نثار احمد صمد　　　　　　　　　　　　　　　　۲۰۱۶/۰۷/۲۷

# له افغانستان څخه د کندهار ۸۸۸ ورځنی بیلتون

بسم الله الرحمن الرحیم ـ دا لیکنه څو کاله مخکی په «کندهار» مجله کی چاپ سوې ده ، خو د نن ورځی د اهمیت له مخی یې بیا خپرول ښه دی ( نثار احمد صمد واصفی ).

په ۱۸۳۹ م کال د انګرېز – افغان لومړی درې کلنه جګړه ځکه پېښه سوه، چي برتانیې په منځنۍ اسیا کي د روسیې د مخنیوي په خاطر غوښتل، چي ځانونه د امو تر سینده ورسوي، که نه له هندوکشه به هرومرو د برتانوي هند "ثابته پوله" جوړېده. هغوی ته دا مهمه نه وه که دغسي پوله د افغانستان سره وای یا له روسیې سره. یعني که افغانستان د نقشې پر مخ نور وجود لرلای یا نه هغو ته بې تفاوته وه. دا جګړه انګرېزانو ته د دومره لوی زیان په بیه پرېوته چي ان یوازي د کابل له محاذه یې د شل زره کسیز پوځ څخه فقط یو نفر (ډاکټر برایډن) په مړژواندي ډول ځان وایست او بس، خو برتانوي چارواکو د دې رټني او ځپني سره سره خپل دا ارمان له مغزه لیري نه کړ. په دې اړه هلته په لندن کي دوو نظریو لوري وموندل. لومړی دا چي لیبرال ګوند د افغانستان د "سیاسي نیوني" غوښتونکی سو، ځکه هغوی ددې ناورین څخه په زده کړه سره هلته د نیغي حملې پر ځای سیاسي نفوذ ته ترجیح ورکړه، یعني دا چي امیر به د انګرېزانو په خوله وي. دوهم دا چي محافظه کار ګوند نور هم وپارېد او د خپلي بې حیثیتۍ د غچ په خاطر هلته د "پوځي نیوني" غوښتونکی سو. دغسي هدف ته د رسېدو یوازینۍ ذریعه هماغه مخکښنه تګلاره (یا فارورډ پالیسي) وه. د دې تګلاري مبتکرانو لکه (لارډ اکلینډ، جان لارنس، سرهنري، راولسن، بارون لیټن او لمسډن) د ۱۸۶۵ کال راهیسي دې کار ته لېچي نغښتي وې. هغوی د روسانو له خوا د منځنۍ آسیا د یوې یوې سیمي لاندي کولو سَوکه سَوکه عصبیان کړي وو. لکه ډیوک آف ارګایل چي د روسانو له خوا د مَرو په نیولو سره برتانوي چارواکو ته د عصبي ناروغۍ یعني (Nerousness) د نوم پر ځای د (Merrousness) نوم ورکړ، چي په ملنډو سره یې معنی د مَرو د نیولو په وجه عصبي ناروغي ده.
برتانوي چارواکو په ۱۸۷۳ کي د خیوه تر سقوط وروسته فیصله وکړه، چي بیا به د افغانستان په شمال کي د روسیې د هري نیوني په بدل کي دوی هم د افغانستان په جنوب کي یوه یوه سیمه لاندي کوي. هغوی همداسي هم وکړل او د روسیې له خوا یې هلته د مرو په نیولو سره دلته کوټه لاندي کړه. د مخکښني تګلاري لمسوونکي د هند د دولتي شورا غړي (بارترفریډ) وړاندیز وکړ، چي کوټه به نیول کېږي او په هره توګه چي وي، پر امیر (شیرعلي خان) باید په کندهار او هرات کي د یو یو انګرېز (پوځي) نماینده ټاکنه ومنل سي. په لندن کي د هند وزیر سالسبري دا طرحه تائید او په محافظه کار صدراعظم بنیامین ډیزرائیلي سره یې هم منظور کړه.
امیرشیرعلي خان د زیاتو کښېکښنو او نامعقولو غوښتنو په ځپو کي راغی ، خو هغه مقاومت کاوه. دا بهیر ورو ورو په تهدیدونو، اخطارونو او بالاخره په اولتیمېټم سره بدل سو، چي څلوېښت زره کسیز برتانوي پوځ د ۱۸۷۸ د نومبر پر ۲۱مه د درو جبهو (خیبر، کورمي او پښین) څخه پر افغانستان یرغل وکړ. امیر د پنځوس زره کسیز غښتلي پوځ په لرلو سره سره د نه مقاومت امر صادر کړ او په خپله مزار شریف ته ولاړی، چي د روسانو له خوا ورکړې ژمنه امتحان کړي. ده تر دې خوځېدو مخکي خپل مشر زوی محمدیعقوب خان تر اته کاله قید وروسته آزاد او د کابل د والي په توګه وټاکه. ځینو ناوړو پېښو لکه د شپاړس کلن زوی او ولیعهد عبدالله جان مړینه، د انګرېزانو برید، د روسانو لخوا د مرستي څخه انکار او تر ټولو مهمه د هغه خپله د نقرص (ګانګرین) ناروغۍ امیر په بستر کي واچاوه، چي د ۱۸۷۹ د فبرورۍ پر ۲۱ مه همالته مړ او ښخ سو.

د امیر شېرعلي خان په مړینه سره د قدرت خلا منځ ته راغله او برتانوي چارواکو داسي انګېرله چي که افغانستان غښتلی کېږي، نو یو پیاوړی واکمن هم باید ورته ولټول سي، حال دا چي داسي څوک نه تر سترګو کېدئ. د هند مرستیال واکمن یا وایسرا (بارون لیټن) ته په دې اړه ډېري لاري چاري پرتې وې : لومړی دا چي



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

افغانستان دي مستقيماً په برتانيه پوري وتړل سي. دوهم دا چي هغه دي يو غښتلی او خپلواک ملګری کړای سي، او دریم دا چي هغه دي تجزیه او پر ځو مستقلو برخو وویشل سي.
لومړی چاره ډېره خطرناکه معلومېده او وایسرا هغه ځکه دونه ممکنه نه بلله، چي یو خو له مالي پلوه د دغه غرني هيواد نيونه ګرانه تمامېده او بل دا چي لندن هم دا وخت د دغسي طرحي سره موافق نه و. د دوهمي چاري د تحقق له پاره يو داسي تکړه واکمن ته چي کولای يې سوای افغان مشران يې په ځان پسي روان کړي وای اړتيا احساسېده. ستونزه دا وه چي يو خو دغسي څوک نه و او بل دا چي وايسرا قطعاً دغسي واکمن نه غوښت، ځکه چي د جاه طلبی او نافرمانۍ خطر يې موجود و. له همدې کبله هغه درېيمه چاره يعني د افغانستان تجزيه او ټوټه کېدنه غوره کړه. ده وليکل:
"زه په ځاني توګه ... په دې باوري يم چي زموږ د تلپاته ګټو په خاطر د افغانستان د ستونزي وروستۍ چاره د دې هيواد د جوړ کړي سياسي يووالي ماتول او تجزيه ده".
لېټن په دې لټه کي و، چي کابل او کندهار بايد دوه بېل بېل دولتونه سي، چي يو له بله به خپلواک وي. په داسي حال کي چي دواړه به تر برتانوي پالني لاندي راځي، خو د هرات په هکله يې پرېکړه وکړه، چي هغه به په څو شرطونو ايران ته ورکول کيږي.
د ۱۸۷۹ په اګسټ کي د کابل پاڅون او د سپټمبر پر دريمه د برتانوي سفير(کيوناري) او د ورسره هيئت وژلو لېټن نور هم وخښماوه، چي د نومبر پر لسمه يې په لندن کي د هند وزير (کرين بروک) ته داسي وليکل :
"نور نو پر افغانستان د يوې واحدي اداري چلول امکان نه لري او زموږ ټول راتلونکي عمليات بايد د همدغسي يوې لاسته راوړني په خاطر لوری ومومي". کرين بروک د لېټن د دې مفکورې سره چي ويل يې:
"افغانستان بايد په مجموع کي نور نو وجود ونه لري !" موافق و. لندن يوه مياشت وروسته يعني د ډسمبر پر يوولسمه د افغانستان د تجزيې سره خپله خوښي اعلان کړه او د وروستۍ منظورۍ په تمه سو.
لېټن د ۱۸۸۰ د جنوري پر اوومه کرين بروک ته د خپل يو مخفي ليک په ترڅ کي ټينګار وکړ، چي : "هرات او سيستان دي ايران ته وسپارل سي ... په کابل او کندهار کي دي د انګرېزانو تر څارني لاندي دوه بېلابېل دولتونه جوړ سي. پښين، سيبۍ او کورمه دي مستقيماً تر برتانوي کنټرول لاندي راسي او د آمو ولايت برخليک دي وروسته وټاکل سي ...". د همدغسي تجزيې پر سر غور روان و، چي په کابل او غزني کي د انګرېزانو پر خلاف ملي پاڅون زور واخيست او سختي مرګ ژوبلي پېښي سوې. لېټن دغو پرمختياوو ډېر تلولی او وخښماوه او په کابل کي يې جنرال رابرټس ته هدايت وکړ، چي: "هر افغان بايد د برتانوي ځواک په غچ اخيستونکي وسلې سره ووژل سي". (او ځکه نو د کابل د لوی امام په ګډون تقريباً سل کسه افغانان په دار وځړول سول). نوموړئ د يو جزا ورکوونکي عمل په توګه د افغانستان تجزيې ته نور هم لېوالی سو.
د لېټن په وړاندي اصلي پلان له افغانستانه د کندهار بېلتون و، چي په دې اړه لومړنی ګام وړاندي لا اخيستل سوی و. د جنرال ډونالډ سټيوراټ په مشرۍ د انګرېزانو دوولس زره کسيز پوځ د ۱۸۷۸ د نومبر پر ۲۱ مه د کندهار د پښين ولسوالۍ ته داخل او ښار تر يوې نيمي مياشتي محاصرې وروسته يعني د جنورۍ پر اوومه سقوط وکړ.
د افغانستان څخه د کندهار د بېلېدو پلان د ۱۸۸۰ د اپرېل پر لومړۍ نېټه عملاً پيل سو. لارډ لېټن د کرين بروک تر منظورۍ وروسته شيرعلي د مهردل خان زوی د کندهار او ورپورو سيمو د خپلواک (والي) په توګه وټاکی او اعلان يې وکړ، چي کندهار نور د تل له پاره له کابله بېل کړای سو. ډګروال سېنټ جان په کندهار کي د انګرېزانو سياسي افسر د مۍ پر يوولسمه يوه لويه غونډه راوبلله او د هغې په ترڅ کي يې د کندهار ولس له دې اقدامه خبر کړ. سېنټ جان د دې غونډې پر مهال شيرعلي خان د کندهار او ورپورو سيمو د والي په توګه اعلان کړ، (والي هغه چا ته ويل کېدئ، چي په کورنيو چارو کي به خپلواک او په بهرنيو چارو کي به د برتانويانو تابع و). نوموړي په دې مراسمو کي د ولايت توره د شيرعلي تر ملا وتړله او مبارکي يې ورکړه. شيرعلي هم خپل ګوډاګيتوب داسي اعلان کړ:
"هيله من يم چي ډېر ژر داسي موقع په لاس راسي چي دا توره د برتانوي دولت د خدمت په لار کي له تېګي راوباسم". خو په حقيقت کي د هغه توره په تېګي کي زنګ ووهله، چي تر يو کال وروسته په مړو سترګو د انګرېزانو سره د تل له پاره د افغانستانه ووت او په کراچي کي ميشت سو. د کندهار ټولي سيمي د انګرېزي پوځ له خوا ساتل کېدې او اصلي واک د برتانوي سياسي افسر (اوليور سېنټ جان) په لاس کي و. يوازي په ظاهره سِکه او په مسجدونو کي خطبه د شېرعلي په نوم وه. تر دې وروسته د (کندهار پوځ) هم جوړ کړای سو، چي مالي لګښت يې د برتانوي هند له خوا کېدی.
کندهار څه کم دوه نيم کاله د افغانستان څخه جلا سو، چي په دې کي يو نيم کال مستقيماً د انګرېزانو او پاته يو کال د هغوی تر پالني لاندي د يو بېل هيواد په توګه اداره کېدئ، چي د ميوند د سپېڅلي او تاريخي جګړې په برکت بيرته د خپلي مور تودې غېږې ته ولوېد.

ملي پاڅون د موج په حال کي و، چي دوی پرمختياوي پيښني سوې، يوه دا چي په لندن کي د ۱۸۸۰ کال د اپريل په پای کي د محافظه کار ګوند په زيان انتخابات ليبرال ګوند وګټل، چي له افغانستانه يې د خپل پوځ د (شرافتمندانه) او (عزتمندانه) ايستني ژمنه کړې وه. بل دا چي د هيواد په شمال او لوېديځ کي د سلطنتي کهول څخه دوه ځوانان راپيدا سول، چي مخ پر کابل د يون په حال کي وو. سردار عبدالرحمن خان د امير محمدافضل خان زوی د تاشکند څخه د شمال له خوا او سردار محمدايوب خان د امير شيرعلي خان زوی د هرات له خوا په بېلابېلو ډولونو راروان وو. لومړنی يون (محتاطانه) و، په داسي حال کي چي هغه بل يون (جګړه ييز) و. ايوب خان د ۱۸۸۰ په لومړيو کي دوه درې ځله عبدالرحمن ته د جهاد بلنه ورکړه، چي انګرېزان د شمال او جنوب له خوا يو دم وځپل سي، خو عبدالرحمن په دې او هغه پلمه له داسي کاره ځان ژغورئ. انګرېزانو د دې نوو پرمختياوو په ليدنه او شننه سره تصميم ونيو، چي عبدالرحمن خان غوره کړي، ځکه د هغه سره د روسيې رضايت هم مل و، حال دا چي د ايوب خان انګرېز دښمنه احساسات هغوی ته پوره ثابت وو. وايسرا (ليپل ګريفن) مؤظف کړ، چي کابل ته وخوځي او د عبدالرحمن خان سره تماس ټينګ کړي. د هغوی دواړو تر منځ د څو ليکونو په راکړه ورکړه سره دوه اړخيز باور ايجاد او زيات سو. ګريفن هغه امير کېدو او کابل ته په راتګ سره هڅاوه، خو عبدالرحمن خان د ۱۸۸۰ په مې کي لاندني معلومات وغوښتل:

الف : زما تر واک لاندي سيمو پولي به تر کومه ځايه وي ( يعنی څومره افغانستان راکول کيږي)؟

ب : آيا کندهار به هم په هغه کي شامل وي که يا؟

ګريفن د جون پر ۱۴ مه ورته وليکل چي د کندهار پراخه سيمه د کوم بل واکمن په واک کي ورکول سوې، حال دا چي د پښين او سيبي ولسوالي د برتانيې تر همېشني کنټرول لاندي راغلي دي. عبدالرحمن خان يوه اوونۍ وروسته ورته وليکل، چي دئ د هغه افغانستان د ورسپارني څخه ډېر خوښ دئ، چي حدود يې دامير دوست محمد خان سره د لاسليک سوي تړون پر اساس تثبيت سوي وو، خو د هرات په هکله يې وليکل، څنګه چي هلته د ده د اکا زوی محمدايوب خان والي دئ، نو پر همدې مقام به يې پرېږدي. بايد وويل سي چي د امير دوست محمد خان سره دوه تړونه لاسليک سوي وو، لومړی د ۱۸۵۵ کال تړون چي په هغه کي کندهار ورڅخه بېل کړای سوی و او دوهم د ۱۸۵۷ کال تړون، چي په هغه کي کندهار د افغانستان سره بيرته ملحق سوی و. خو مهم ټکی دا دئ، چي لومړنی تړون دايمي او دوهم تړون پرته له يوې مادې څخه موقتي و. نو له دې نه ثابتېږي چي عبدالرحمن خان په ځيرکی سره د کندهار د اخيستو څخه تېر سو، که نه د هرات د اخيستني له اشارې سره به يې د کندهار ذکر يا د ۱۸۵۷ کال د تړون يادونه هم کړې وای او دا بېله شکه يو ځيرکانه تجاهل و.

رېپن (نوی وايسرا) د عبدالرحمن خان د دې نامشخصي ځرګندوني څخه ډېر خوښ سو او هرينګ ټن ته يې وليکل، چي : "دا کفايت کوي چي نوموړی (عبدالرحمن خان) زموږ په دې اراده پوهېږي چي موږ کندهار ده ته ځکه نه ورکوو، چي د هغه له پاره يو بل پلان لرو". وايسرا په کابل کي ستيوراټ ته واک ورکړ، چي عبدالرحمن د کابل او ورپورو سيمو د امير په توګه رسماً ومني او هغه هم په داسي حال کي چي عبدالرحمن لا په چاريکار کي و، د ۱۸۸۰ د جولای پر ۲۲ مه د يوه دربار په رابللو سره عبدالرحمن د کابل او مربوطو سيمو د واکمن په توګه اعلان کړ.

د کابل د پرمختياوو تر څنګ هلته په بېل سوي کندهار کي عام ښښم راپورته او انګرېزان په سختو امنيتي سرخوږيو کي رانغښتي وو، مثلاً په ښکارپر بازار کي د قاضي داني تر څنګ د يو بوټ جوړونکي له خوا په رنده سره پر سبنټ جان باندي حمله او د نواب غلام حسين هندي او انګرېزي ساتونکي له خوا د هغه ژغورل او د موچي نيول او وروسته ځړول. د يو بل ځوان له خوا په چاړه سره پر څو انګرېزي عسکرو حمله او د توپخاني د يو افسر وژل او وروسته د ده ټوټه ټوټه کول. د پنځو طالبانو له خوا د انګرېزانو د سپورټ په ميدان کي پر هغوی حمله او د څو پوځيانو وژل. يو بل ځوان چي نوراحمد نومېدئ پر انګرېزانو بريد وکړ او څو کسه يې ووژل. يو کليوال چي کله د خپلو دوو زامنو په ملګرتيا څو کسه انګرېزان وليدل، نو خپل اوښان يې ايله کړل او اووه کسه يې ووژل، څو چي دوی هم پسې شهيدان سول. ښاريانو پر انګرېزي توپخاني ناڅاپي بريد وکړ، دښمن هم په وارخطايي سره ځواب ووايه، خو په نتيجه کي يې خپل ګڼ شمېر پوځيان ووژل. کليوالو د ګرشک او ښار تر منځ د انګرېزانو پر درنو وسلو چريکي بريدونه وکړل، چي زيات نقليه وسايل يې ورڅخه يووړل او د سر زيات زيانونه يې ور واړول. انګرېزي پوځيان وروسته د ښار په څلور دېوالي کي محصور او پرله پسې د نامنظم جنګ سره مخامخ وو. مبارزينو به تل د دښمن د پياوړي توپخاني د شنډولو په خاطر د هغوی لوی حيوانات له منځه وړل. لکه څنګه چي د هغوی دومره زيات اوښان ووژل سول، چي ان ټوله سيمه بوی پر سر اخيستې وه. له دې نه پرته د انګرېزانو کاروانونه او رسَد هم تل د چريکي حملو ښکار وو، چي دې کار هغوی تر سږمو راوستلي او بېزاره کړي وو، (خو د افغاني تاريخ د وياړلو پيښو مسخه کوونکی او مرموز ليکوال صديق فرهنګ دا چريکي عمليات له بده مرغه تروريستي اعمال بولي).

د مخورو او مشرانو لویه تمه دا وه، چي د ایوب خان په مشری له هراته افغاني پوځیان راورسېږي څکه همداسي اوازې رارسېدې او ملت د عمومي قیام له پاره ساه اخیستله.
د کندهار پوځي قوماندان جنرال بوروز او سیاسي افسر ډګروال سېنټ جان ته د ۱۸۸۰ د جولای پر دوولسمه خبر راغی، چي د ایوب خان د پوځ مخکښنه ځواک واشېر ته رارسېدلی او دئ پخپله هم د هغه څخه ډېر لیري نه دئ. د جولای پر شلمه یو برتانوی غونډ هلمند ته ولېږل سو او په همدې ورځ د ایوب خان په مشری مبارزین هم د میوند پراخ دښت ته راورسېدل. دواړه پوځونه یوه اوونۍ یو بل ته مخ په مخ پراته وو، څو چي د جولای پر ۲۷ مه دومره سخت جنګ ونښت، چي په اسیا کي یې د انګرېزانو ملا ور ماته کړه او د افغانستان سره د کندهار د بیرته پیوستون باعث سو. ښځو او پیغلو هم دې جګړې ته ودانګل. پېغلې ملالۍ د یوه ټپي افغان څخه توره واخیسته او خپل پوړنی یې د جنډې غوندي ورپوري وتړئ او د غازیانو وینې یې په دې لنډۍ سره په غورځنګ راوستې:

خال به د یار په وینو کښېږدم
چي شینکي باغ کي ګل ګلاب وشرموینه
که په میوند کي شهید نه سوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دي ساتینه

د انګرېزي مؤرخینو په حواله د میوند په جګړه کي د جنرال بوروز څه باندي دوه نیم زرو پوځیانو برخه لرله، چي یو کنډک یې د انګرېزانو او دوه کنډکونه یېهم د هندیانو څخه جوړ وو. په دې جګړه کي د هغوی د انګرېزي له مخي (۱۳۰۰) انګرېزي پوځیان له منځه ولاړل او زیات توپونه او وسلې یې هم ولجه سوې. یو برتانوي افسر مک لاین ژوندی ونیول سو، چي وروسته محاکمه سو. ٦٦ مه نومره برتانوي کنډک پرته له یو کس نه ټول تباه سو. د جګړې څخه یو بچ سوي برتانوي افسر خپل کهول ته داسي ولیکل:
"یوه ستره تباهي را په برخه سوه، زموږ جنډې، نښانونه، د موسیقۍ ترومان او ډولونه او یو څه توپونه د مهماتو په شمول دښمن راڅخه ولجه کړل، زه وروسته له هغه چي ماتې راګډه سوه، درې ځله پر مځکه ولوېدم، حال دا چي زموږ ځواکونه د ډېري بېړې څخه دوري هوري تښتېدل. زموږ تورن ووژل سو، شپه تر سهاره د منډو او تعقیب په حال کي وو".
په دې جګړه کي د ۷۰۰ کسو په شاوخوا کي افغانان هم شهیدان سول، چي نن د میوند هدیره وربانديي ویاړي.
انګرېزانو د افغانانو سره تر خپلي لومړۍ جګړې وروسته دومره ستره ماته نه وه خوړلې او په دې ډول د هغوی برم ته سخت زیان ورسېد. د ګلیډسټن نوئ‌لیبرال حکومت ډېر سرخوړی سو. لندن د دې ستر ناورین له کبله د خپل افغاني سیاست د ګرندي بدلولو په لټه کي سو او وایسرا ته یې هدایت ورکړ، چي د امیر عبدالرحمن خان سره د روغي جوړې له مخي ګامونه واخلي. هرینګټن په هند کي وایسرا (ریپن) ته ولیکل، چي "د برتانیې سیاست پرته له دې چي افغانستان دي تجزیه کړي نور نو باید داسي وي چي د هغه له مخي د نورو له مرستي پرته یو غښتلی افغانستان منځته راسي. د کندهار د بېلتون پر مسئله دي له سره غور وسي او هرات دي هم په دغسي یو متحد افغانستان کي شامل کړه سي".

د میوند ماتي وایسرا درو بېړنیو ګام اخیستنو ته اړ یوست : لومړی د برتانیې د بې حیثیتي په بدل کي ایوب خان ته غابش ماتونکی ځواب، دوهم د امیر عبدالرحمن خان هڅونه او د زیاتي مالي او پوځي مرستي ورکړه او دریم د کندهار "واکمن" شیرعلي ته یې د هغه د بې کفایتۍ او ناپسندۍ له امله تقاعد ورکړ.
د لومړني ګام په توګه د ۱۸۸۰ کال د اګسټ پر اوومه امیر عبدالرحمن خان کابل ته داخل او انګرېزي پوځونه له هغه ځایه ووتل. د دې پوځ له منځه لس زره ډېر تکړه او جنګیالي پوځیان د زیاتو او درنو وسلو سره د جنرال فرېډ ریک رابرټس په مشری د ایوب خان د ځپني له پاره مخ پر کندهار وخوځېدل او پاته یې د جنرال سټیوراټ په مشری د جلال آباد له لاري هند ته ولاړل. البته د هند څخه هم تازه ځواکونه د سیبۍ د اورګاډي له سټېشن او هم د بولان او کوږک له لاري کندهار ته ولېږل سول. جنرال رابرټس د غزني، مقر او کلات مجاهدینو ته د عبدالرحمن خان د لیکونو او د دې پوځ سره د خپلو استازو په لېږنه او ډاډ سره وکولای سول چي له کوم خنډه پرته په ۲۳ ورځو کي کندهار ته ورسېږي، او په هماغه سبا پر ایوب خان یرغل وکړي. د ایوب خان پوځ په پیرپایمال، باباولي او چهل دختران کي د کلک مقاومت سره سره ماته وکړه او خاکرېز ته پر شا سو، چي وروسته نادعلی او بیا هرات ته وخوځېد. په دې ډول د میوند غچ واخیستل سو او کندهار بیرته د انګرېزانو په لاس کښېوت.
د دوهم ګام په توګه د وایسرا په لارښوونه ګریفن د امیر سره د جولای پر ۳۱ مه او د اګسټ پر لومړۍ نېټه د کوهستان په زمه کي وکتل. عبدالرحمن د کندهار او هرات د غوښتني څخه تېر سو، خو څرګنده یې کړه چي (که په دې اړه کله هم کومه ستونزه پېښه سي) د داسي شرم څخه د برائت په خاطر باید یو څه وسي او هیله یې وکړه چي کلات دي د ده په سلطنت کي شامل کړه سي. هغه د ګریفن سره د یو بېټ ملاقات غوښتنه هم وکړه، چي ومنل

سوه. عبدالرحمن خان په دې خصوصي (يو په يو) کتنه کې زياته نغدې او پوځي مرسته وغوښته او ويې ويل :
"دا به د سرکار (برتانيې) په ګټه وي، که دئ په ټولو ممکنه لارو سره تقويه کړي او دئ به دغسي احسان هيڅکله هم هېر نه کړي ...". خو د بده مرغه د عبدالرحمن درو نيمګړتياوو د افغانستان مځکنی چوکاټ مات او ملي ګټې خاورې کړې. يعني :
الف : د سياسي مقاومت له لاسه ورکول؛
ب : د برتانيې د بدل سوې سياست څخه بې خبري ؛
ج : د انګرېزانو د خطرناک او ضعيف سوي حالت څخه ګټه نه اخيستل؛
همدا وجه وه چې هغه د افغانستان پر مځکنۍ بشپړتيا ټينګار ونه کړ، که نه بايد د افغانستان سره يې د کندهار، هرات، خيبر، کورمې، سيبۍ او پښين بيرته الحاق ته ليچې نغښتې وای.
د دريم ګام په توګه وايسرا د ۱۸۸۰ د جولای پر ۳۱ مه د هند وزير هرينګټن ته په يو تلګرام کې وليکل، چې :
"... د وروستۍ ماتې (ميوند) په بدل کې موږ ته ښايي چې هغه (والي) تنزيل مقام کړو او هغه بايد زموږ تر پالنې لاندې په هند کې استوګن سي". انګرېزانو د ميوند ماته د (والي) د خيانت، دوه مخی او بې کفايتۍ څخه انګېرل. پس نو مهم سوال دا و، چې کندهار بايد چا ته سپارل سوی وای؟ که کوم "باکفايته" او "دوست" افغان واکمن نه وای پيدا سوی، نو بيا يوازينۍ چاره دا وه، چې کندهار هم د کابل تر څنګ عبدالرحمن خان ته سپارل سوی وای. هغوی هڅه وکړه، خو مطلوب څوک پيدا نه سو.
د لندن کابينې لارډ ريپن ته په دې هکله بشپړ واک ورکړ، چې د شرايطو او پرمختياوو سره سم اجراآت وکړي.
خو د ريپن په وړاندې درې مسئلې پرتې وې :
لومړی : والي شېرعلي ته به ورکړي ضمانتونه او بيعانې څنګه کېږي؛
دوهم : د امير عبدالرحمن له خوا به کړې ژمنې او راتلونکې ارادې څنګه وي ؛
دريم : د کندهار راګرځول به څومره اهميت ولري؛
د لومړۍ مسئلې د اوارولو په خاطر والي وهڅول سو، چې د زيات مبلغ تقاعد په منلو سره په هند کې سوکاله ژوند غوره کړي او همداسې هم وسوه.
د دوهمې مسئلې د حل په منظور د افغانستان سر د کندهار يو ځايوالی د امير عبدالرحمن په دوستۍ، صداقت او ښه نيت پورې وتړل سو، چې تر دې وخته لا عملاً ثابت سوی نه و. همدا وجه ده چې د کندهار « سپارنې » په قطع بازۍ يا پټو کې د رنګ حيثيت درلود. ياني چې څنګه برتانيې غوښتل هغه پټه يې ورباندې ماتولای سوای.
د دريمې مسئلې حل ياني د کندهار راتلونکې برخليک ډېره موده وځنډېدی، ځکه برتانوي جنرالانو د مهم ستراتيژيکي دريځ په وجه د کندهار تخليه نه غوښته په داسې حال کې چې ملکي او سياسي افسرانو د کندهار مالي رسيدګې د هغه تر ستراتيژيکي اهميت درنه او ملا ماتوونکې ګڼله. وايسرا د دې مشکل د اوارولو پرېکړه د لندن څخه وغوښته، او د ۱۸۸۰ د سپتمبر پر شپږمه يې د هند د وزير څخه وپوښتل، چې : "آيا تاسې غواړئ، چې د کندهار څخه موږ په بشپړ ډول ووزو او هغه د کوم بدلون څخه پرته بيرته د افغانستان سره يو ځای کړه سي؟ زه خو په خپله د همداسې ګام اخيستو پلوئ يم ..." د هند وزير د سپتمبر پر نهمه تلګرامي ځواب ورکړ، چې "موږ د پخوا په څېر د کندهار د بشپړې او بېړنۍ تخليې په انديښنه کې يو او که عبدالرحمن هغه حکومت هم غواړي نو دا به ښه خبره وي، چې هغه بيرته د افغانستان سره يو ځای کړه سي. موږ فرصت او آينده ټول تا ته درسپارو خو د پښين او سيبۍ د راګرځولو مفکوره بايد درسره وي".

لندن په خپل دې نرمښت سره روسيې ته خپله په اصطلاح سوله ييزه تګلاره هم په نظر کې ورکول. ځکه روسيې په کندهار کې د برتانيې شته والی نه خوښاوه، کټ مټ لکه برتانويان چې په مَرو کې د روسانو شتون وارخطا کړي ول. د روسيې د نرمولو په خاطر ان لندن د پښين او سيبۍ تخليې ته هم چمتووالی وښود، خو کابينه په دې اړوند پر دوو برخو ووېشل سوه. ناربت بروک او نورو د پښين او سيبۍ په شمول د ټول کندهار تخليه غوښته حال دا چې هرينګټن بېطرفانه دريځ درلود خو صدراعظم (ګليډسټن) بې تفاوته و. عيناً اختلاف د وايسرا (ريپن) په ملکي شورا کې هم روان و. لاکن ريپن د کندهار پر تخليه او د پښين او سيبۍ پر نيونه ټينګ و.
د کندهار ستونزه او برخليک د پورتنيو عواملو له امله څه موده نور هم همدغسي کش راکش کېدئ او کابينه نور نو د دې اختلاف او بې تصميمۍ څخه ډېره ستومانه سوې وه. پای دا سو، چې د ۱۸۸۰ په نوامبر کې د دولت وزير وايسرا ته خبر ورکړ، چې د پښين او سيبۍ د بيرته ورکړې موضوع نور نو هيڅ نه سي مطرح کېدای او ريپن ته واک ورکړل سو، چې د کندهار د راتلونکې په هکله د امير سره خبرې اترې وسي او که چيرې دا خبرې ناکامه سي نو بيا دې د افغاني مشرانو يوه جرګه راوبلل سي، چې هغوی په خپله فيصله وکړي. خو د يادونې وړ ډېر مهم ټکی دا دئ، چې د لندن کابينې پرېکړه وکړه، چې د کندهار څخه د برتانوي پوځ تر وتنې وروسته به د مسلطو شرايطو په پاملرنې سره سيبۍ او پښين هم بيرته افغانستان ته وسپارل سي او دا اوسنۍ

راګرځونه به موقتي وي. خو له بده مرغه تر دې تخليې وروسته که څه هم چي په سيمه کي هيڅ کوم خارجي خطر وجود نه درلود، مګر بيا هم دا سيمي په ۱۸۸۷ کي رسماً او دايماً له افغانستانه بېلي کړای سوې.
د پلان سره سم د وايسرا او امير تر منځ د کندهار په اړه د همدې نوامبر څخه مکاتبې پيل سوې، څو امير خبر کړای سو، چي برتانوي پوځيان به د ۱۸۸۱ د اپريل تر پايه له کندهاره ووزي. ځکه په لندن کي د نماينده ګانو مجلس د مارچ پر ۲۴ مه او ۲۵ مه په ۱۲۰ رايو سره د کندهار تخليه رسماً منظور او پاس کړه. برتانوي پوځ د پروګرام له مخي د ۱۸۸۱ د اپريل تر ۲۷ مي نېټي له کندهاره ووت او هغه يې عبدالرحمن خان ته وسپارئ. د برتانيي بيرغ د يوويشت توپونو په سلامي سره راکښته سو او انګرېزان او افغانان دواړه په دې توګه د مبتلا مصيبته خلاص سول، خو دا چي د کندهار ځيني برخي لکه سيبی، کوټه، چاغي، ږوب، پښين، چمن ... د انګرېزانو سره پاته سول، مانا دا چي هغوی نيم کندهار په خپله واکمني کي مدغم او له افغانستانه بېل کړ، په داسي حال کي چي امير عبدالرحمن خان د مرکزي کندهار په وړيا اخيستو سره دومره خوشحاله سو، چي د پاته کندهار غوښتنه يې (د عادت له مخي) هېره کړه.
لنډه دا چي ننني کندهار تر ۸۸۸ ورځي بېلتانه وروسته د ميوند د تاريخي سوبې په نتيجه کي بيرته د خپل مورني هېواد افغانستان تودې غېږي ته ولوېد او د انګرېز – افغان دوهمه جګړه په دې وتنه سره پای ته ورسېده، چي په بېلو وقفو سره يو لک او څلوېښت زرو انګرېزي پوځيانو برخه پکښې لرله او درې زره کسه يې تلفات او څلوېښت مليونه پونډه يې لګښت وسو.

ايوب خان چي کله د ۱۸۸۱ د جولای پر ۲۷ مه کندهار بيرته د امير عبدالرحمن څخه ونيو، نو امير د انګرېزانو څخه د زياتي مالي او پوځي مرستي تر اخيستو وروسته په سپټمبر کي د ايوب خان د دوو کابلي کنډکونو په پېرېدلو سره هغه بيرته مات او هرات ته وشړئ او تر يوې مياشتي وروسته يې هرات هم ورڅخه ونيوئ، چي هغه ايران ته ولاړ. وايسرا د دغو پرمختياوو په نتيجه کي د دولت وزير ته وړانديز وکړ، چي نور دي نو عبدالرحمن ته د کابل او ورپورو سيمو د امير پر ځای د افغانستان او ورپورو سيمو د امير خطاب و سي. لندن هم د دې وړانديز تر منظورۍ وروسته ډېر ژر عبدالرحمن په رسمي توګه د افغانستان او د هغه د مربوطاتو امير اعلان کړ.
تر دې وروسته افغانستان د انګرېزانو د پوځي جنګ څخه بېغمه سو، خو له بده مرغه د هغوی په سياسي جنګ کي راونغښت، چي په نتيجه کي په ۱۸۹۳ کي د ډيورنډ د منحوس تړون په تحميل سره د انګرېزانو د زړه براس ووت او افغانستان د درېيم ځل له پاره قيچي سو. په همدې مناسبت په ځينو برتانوي آثارو او خپرونو کي دا خبره ذکر سوې، چي "هيڅ يوه ولس انګلستان ته دومره ناګومانه سوغاتونه نه دي ورکړي، لکه افغانانو چي ورته تقديم کړي دي ...". والسلام، نثاراحمد صمد واصفی

## مأخذونه:


۱ ـ غبار، مير غلام محمد : افغانستان در مسير تاريخ، تله، ۱۳۴۶، کابل.
۲ ـ رشتيا، سيد قاسم، افغانستان در قرن نزده، سلواغه، ۱۳۴۶. دريم چاپ، کابل.
۳ ـ کاتب، فيض محمد: سراج التواريخ، ۱۳۳۱ هـ ق. کابل.
۴ ـ حبيبی، پوهاند عبدالحی: د افغانستان پېښليک، لومړی ټوک، ۱۳۵۳ ل، کابل.
۵ ـ عطايي، محمدابراهيم : د اسيا په زړه کي توپان :۱۳۵۹ ل، کابل.
۶ ـ خالفين، نفتوله: انګلستان د افغانستان پر ضد، د شاه محمود نېک ژباړه، ۱۹۸۰، ماسکو.
۷ ـ فرهنګ، مير محمدصديق : افغانستان در پنج قرن اخير، لومړی ټوک، ۱۳۷۱، مشهد، ايران.
۸ ـ وفا جريده، شپږم کال، ۲۹ – ۳۰ ګڼه، حمل، ۱۳۷۶ پېښور.

.9. D. P. Singhal: India and Afghanistan 1876 – 1896, New Delhi

.10. Ludwig W. Adamec, Who’s Who of Afghanistan, Graz-Austria, 1975

.11. L*udwig W. Adamec, Historical Dictionary of Afghanistan, New Jersey, 1991*

*12. Ludwig W. Adamec, Afghanistan Foreign Affairs to the Mid Twentieth Century,*

*Tucson, Arizona, 1974.*